پوهاند محمد بشیر دودیال، بخش: شعراء نخبگان و هنرمندان

۲۰۲۲/۰۱/۳۱

# په قاموس کبیر افغانستان کې
# د استاد «سلام لوګري» او د لوګري موسیقي سبک پیژندنه

استاد سلام لوګری، د لوګري موسیقی د سبک یو نامتو سنرغاړی د افغانستان د موسیقی د یوه ځانګړی مکتب هنرمند و، هغه د نامتو استاد، دُرمحمد لوګری زوی و. د ده نوم سره زموږ ټول هیوادوال آشنا او ټولو ته ډیر ګران و. د راډیو افغانستان په ارشیف کې د استاد سلام لوګري په پښتو او دري ژبو سلګونه سندری ثبت اوضبط دي. هغه محلي سندرغاړی و چې په ۱۳۱۴ل. کال یې د لوګر ولایت د محمدآغې د ولسوالی د ده نو د کلی په سلطان باغ سیمه کې نړی ته سترګې پرانیستی وې، ډیر کلونه یې په کابل راډیو کې رسمی خدمت وکړ، استاد سلام لوګری، دژوند وروستیو کې اته کاله په ناروغی اخته شوی و، وروروریې سترګی ضعیفه شوی، غږ کی یې هم ریږدیدا پیدا شوی وه او دوو وروستیو کلو کې له پښو



هم لوېدلی و. ځوځله یی درملنه وکړه، خو کله به لږ ښه او بیا به ناروغ و چې د۱۴۰۰ل. کال د سلواغې په دوهمه د ۸۶ کلونو په عمر په خپل کلی کې وفات شو. اراوابناد سلام لوګري څه د پاسه څلویښت کاله سندرې ویلې وې او د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون د هنر په څانګه کې یې رسمی کار کړی و. هغه ته د اطلاعاتو او کلتور دوزارت له خوا په ۱۳۸۲ل. =۲۰۰۳م. کال کې د استادی لقب ورکړل شوی و.

استاد سلام لوګری زموږ ټولو هیوادوالو پیژاند او له هنر او آواز سره یې مینه درلوده. هغه د محلی سندرو او اصیلې لوګری موسیقي یوه پیژندل شوی څیره وه. دهیواد ډیرو سیمو ته ودونو او د هیوادوالو د خوښیو مجلسونو ته تللی و. بهر ملکونو ته یې هم سفرونه کړی دي. استاد سلام لوګری د هیواد دنامتو سندرغاړی حاجی دُرمحمد (دُری) لوګری زوی او د هغه لومړنی شاګرد و. د ده ورور عبدالرشید(ماشینی) هم د افغانستان د راډیو تلویزیون د موسیقی د اداري غړی و، چې په سرنده غږولو کې یې ساری نه و. ده ته د ماشین لقب اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ورکړی و. دغه لقب هغه چاته ورکول کید، چې د موسیقی وسایلو غږولو کې ډیر تکړه و. د افغانستان د موسیقی تاریخ کی فقط دوه تنه د(ماشین) په لقب ویاړل شوی دی چې یو یې د استاد سلام ورور (عبدالرشید) و.

**د افغانستان په ملی موسیقی کې د لوګری موسیقی سبک**

دلوګری موسیقی نامتو طرز یونیم سل کاله مخکې دمیرک(میرک کاکا)، ګلبدین اوسیدبهاوالدین له خوا رامنځته شو. دوی دریواړه د پښتو ژبې دهغه مهال شاعران و. دغه سبک د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان له خوا پراخه او وهڅول شو. وروسته بیا یوه پیړی وړاندې داستاد درمحمد (دُري لوګری) یعنی د استاد سلام لوګری دپلار له خوا بشپړ او د یوه جلا افغانی سبک بڼه یې غوره کړه.

ددې موسیقی فورم دتصنیف، غزل، سروکیو او بداهه او دلاندنیو اوو نغمو لرونکی دی:

- لومړنی یا سلامی نغمه( پیل)،
- پیشکار نغمه(سریزه)،
- شاه فرد( سُر نیول او چمتو کیدنه)،
- آستایی (د بیت د زمزمی لومړۍ برخه)،
- پس انداز( منځوی نغمه)،
- د آواز دوهمه برخه(انتره)،
- دپای نغمه(تکمیلی برخه)،

دا سبک د ځانګړو میلودیګانو څخه اوبدل شوی طرز او سبک دی چی خپل خاص ریتمیک استاپونه او فیګورونه لري. دهري میلودي جملې او برخې لنډې لنډې اویو بل سره توپیر لرونکی دي، چې منځ منځ کې یو څه مکث لری. دغه برخې ځینی وخت په یوه باریکه نوا یو بل سره تړل کیږي. دزیراو بم توپیر پکې څرګند او میلودیګانی لوړې ژورې اوبیا د اوج ټکی لري. له نن څخه تر سلو کلونو وړاندی په دې موسیقی کی دساز آلې؛ رباب، سرنده او ډول وو. په ۱۳۰۱ل. کال کې هارمونیه هم پکی اضافه شوه. د ساز دغه پرده یی آله استاد دوری لوګری په لوګری سبک کی شامله کړه. استاد بیلتون دمبوره هم پکې اضافه کړه ، په دې توګه یی شمیر څلورو، بیا پنځو او شپږو سازي آلو ته ورسید: کټه ډول ، سرنده ، آرمونیه ، رباب، دمبوره ، اوسرنی.ددې موسیقی مشهورې سندرې دا دي:

ورو وروساروانه وا دخیال کجاوی...( چې معمولاً په ودونو کې د ورا د روانیدو پرمهال ویل کیږی)،

صورت مې ګل ته یې باغوان،

شابازې دې اوبدلی لیلا – ژیړ کل دی د شرشم پکی ټومبلی لیلا،

د ستا دسترګوجارشم –ستاترمخ قربان،

الهی مبارک بادا او او په سلګونه نورې دري او پښتو سندرې.

د دې سبک مشهور سندرغاړي دا دي: استاد دری لوګری، سلام لوګری، بیلتون، جمعه ګل لوګری، تازه ګل ، عبدالرزاق شوقی، همیشه ګل، سیدګل، حبیب الله، آدم خان، قاسم لوګری، معراج الدین لوګری،

به صفحۀ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید

تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

محمد ایوب او شمس الدین لوګري، چې نامتو موسیقي غږوونکی یې عبدالرشید ماشیني سرنده غږوونکی ، استاد قاسم لوګری او ګاونډیو ولایتونو لکه استادعمرمیداني ، استادګل علم ډول غږوونکی دغزني څخه – رازق چاریکاری – زمان شوقی ، حمیدالله چاریکاری ، ګل محمد استالفی ، عالم شوقی ، فیض کاریزی اونور دي. په دی کې یو څو یی د لوګر ، نور یی د بیلابیلو ولایتونو دي. یعنې دغه موسیقي وروسته دومره اغیزمنه او د خلکو خوښه شوه چې لمن یې پروان، وردګو ، غزني ، کابل او شمالي سیمو ته وغځیده، د دې سبک آرمونیزه فولکلوریک وه چې دلرغونتوب نه راووښتې پیرکې راڅرګنده شوه، معاصر وخت کې استاد سلیم سرمست نوره هم ورته فولکلوریکه بډاینه ورکړه.

د استاد دری او د ده د زامنو ژوند ډیر له ناخوالو ډک و. په خپله استاد دری لوګری چې د لوګر د ده نو دسلطان باغ کلي کې په ۱۲۷۱ل. کال نړۍ ته سترګې پرانیستی، څو کلونه مسافر شو، ترڅو چې په ۱۳۶۰ل. کال کې د یوې جګړې د خونړۍ پېښې په ترځ کې مظلومانه شهید شو، په ۱۳۴۴ل. کال کې یې د استادی لقب ترلاسه کړی و. زوی یې عبدالسلام لوګری هم د ډیرو خدماتو سره سره، دبیوزلۍ ژوند درلود، بل زوی یې عبدالرشید(ماشینی) په کرایی کورنو کی د غربت ژوند درلود، یو وخت چې له راډیو څخه رخصت ورکړل شو د قصابی هټۍ یې جوړه کړه، ترڅو چې بیرته په ۱۳۸۰ کی رادیو ته راغی، خو اقتصادی وضعیت یې ښه نه و او بالاخره د یوې اوږدی ناورغۍ له امله وفات شو او استاد سلام لوګری هم اته کاله د ناورغی پر کټ پریوت، ترڅو چې د ۱۴۰۰ل.کال د سلواغی په دوهمه وفات شو. د لوګری موسیقي زیاتره هنرمندان د بهایی جان اوفیضیه صاحبرادګانو مریدان اود طریقت پیروان وو. د زیاترو اشعار هم همدغه عرفانی مکتب څخه وو. سره له دې چې ډاکتر محمد ناصرسرمست د موسیقي ملی انستیتوت کې د لوګری موسیقي لپاره یو ځانګړی ډیپارتمنت جوړ کړی و، خو د دغه سبک د نامتو ځیرو په وفات کیدو سره به دهغی د ژوند دوام له شک سره مخ شي. هیله ده دغه سبک د نابودی په لوری ولاړ نشی، بلکې وپالل شي. د یادونې وړه ده چې دغربی آلو په واسطه څو غږول شوی لوګری پارچې هم د راډیو ارشیف کې شته او زموږ یو شمیر اماتوارنو هم په دې سبک سندرې ویلي دي.

د افغانستان موسیقي؛ په تیره لوګری موسیقي بهرنیو هیوادو کې ډیر مینه وال لرل. کله به چې زموږ افغانی هنرمندان بهرته کنسرتونو ته ولاړل، هلته به یې ډیر زیات هر کلی وشو او له راز راز سوغاتونواو دیپلومونو سره به بیرته راغلل، چې د افغانستان لپاره به لوی ویاړ و. له نیکه مرغه د لوګری موسیقي ډیرې پارچې د انډیا راډیو(ډیلي)، مسکو راډیو، بی بی سی، ازادی (امریکاغږ) راډیو ارشیفونو کی شته او خوندی دي.

به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید

تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند